د 2024 کال د جنورۍ د میاشتې 29 نېټه




په DeKalb کاونټي کې د ښوونځي دوه ولسوالۍ شتون لري: په Decatur کې د City Schools ولسوالۍ او د DeKalb کاونټي ښوونځي ولسوالۍ (DCSD)

DCSD د ښوونځي په هره ورځ باندې ټولو زده کوونکو ته صحي او مغذي خواړه وړاندې کوي. د ولسوالۍ په ټولو ښوونځيو کې معیاري ناري، د غرمې ډوډۍ او د ناشتې اختیارونه د اوړدې مودې راهیسې هر زده کوونکي ته له کوم عوض یا د بدیل مینو له اختیارونو څخه پرته د لاسرسي وړ دي بې له دې چې د زده کوونکو لخوا د لګښت تادیه کولو وړتیا یا لګښت په خپل حساب کې د پاتې په توګه د پرېښودلو اختیار په پام کې ونیول شي.

د خواړو لګښتونه ثبت کیږي او د غرمې ډوډۍ تادیه کوونکي کورنۍ هره اونۍ د بیلانس خبرتیاوې ترلاسه کوي. تادیات د ښوونځي کال په اوږدو کې ترسره کیدی شي.

DCSD له 82٪ څخه زیات داسې زده کوونکي لري چې د وړیا او کم قیمه خواړو لپاره وړ دي. ولسوالي ژمنه ده چې د کورنیو سره له شفقت څخه کار واخلي ترڅو د تادیاتو پلانونو، د ټولنې تمویل یا د حکومتي پروګرامونو د وړاندیز کولو له لارې د پام وړ لګښتونه پوره کړي ترڅو د خواړو بیلانس کم کړي یا یې په بشپړه توګه پوښښ رامنځته کړي.

هسپانوي ژباړه وګورئ:
https://dekalbschoolsga.blob.core.windows.net/wpcontent/2024/01/Spanish_2024-01-25-DCSD-School-Meals-Charging-Policy-Explained.pdf

PASHTO

DeKalb County
School District

د 6 ولسوالۍ غونډه

# د خپلو زده کوونکو ساتنه

د ښوونځي د خونديتوب لپاره د ګردي ميز بحث










پنجشنبه
د 2024 کال د فبرورۍ د
مياشتې 29 نېټه

د مازديګر له 5:30 بجو څخه
تر د ماښام 7:30بجو پورې

د Stone Mountain عالي
ښوونځی
,4555 Central Drive
Stone Mountain, GA 30083

**خاص مېلمانه:**

**Interim Chief Larry Wright**

**Darnell Logan**
*خوندي ښوونځي او د زده کونکو اړيکې*

**Dr. Kishia Towns**
*- Wrap Around خدمتونو برنامې مشره*

**کوربه:**

**.Mr. Diijon DaCosta, Sr**
*- بورډ استازی (6 ولسوالۍ)*




د ټولنې لخوا د نوي Sequoyah منځني او عالي ښوونځي لپاره د پلانونو افشا کولو په خاطر د ښکیلتیا په ځانګړې غونډه کې د ګډون کولو لپاره د پنجشنبې په ورځ د فبروری په 1 نېټه د Sequoyah په منځني ښوونځي کې د ماښام په 6 بجو له موږ سره یوځای شئ. خپل ملګري، همسایه ګان او فامیل مو راولئ.




د DCSD د 2024 د ښکیلتیا او سوسیالیستی غونډه (په انګلیسي/ هسپانوي)

https://www.youtube.com/watch?v=kIv0c6pNlzU




**ستاسو غړې، زموږ راتلونکی!**

د DeKalb کاونټي ښوونځي ولسوالۍ زموږ د 2024-2029 ستراتیژیک پلان جوړولو لپاره په سفر پیل کوي، او موږ ټولو زده کوونکو، والدینو، کارمندانو، او د ټولنې غړو ته بلنه ورکوو چې زموږ د ښوونځیو او ټولنې لپاره د دې لید په رامنځته کولو کې مرسته وکړي.

مهرباني وکړئ په لاندې عکس کې د QR کوډ سکین کړئ یا په ستراتیژیک پلان کې د برخه اخیستونکو سروې ترسره کولو لپاره د https://bit.ly/3SdUJq3 څخه لیدنه وکړئ.

په ګډه، موږ د غوره والي په خاطر بدلون رامنځته کوو. په خبرو اترو کې ګډون وکړئ او راځئ چې داسې یو راتلونکی طرحه کړو چې موږ ټول پرې باور لرو.



DCSD د ټولنې ټولو غړو ته بلنه ورکوي چې د زده کړې تر ټولو مهمې برخې کې ګډون وکړي: د مالیې څخه د رامنځته شویو ډالرو مصرف

خلکو ته بلنه ورکول کیږي چې د E-SPLOST (د زده کړې د ځانګړي هدف د محلي اختیار د پلور مالیې) په مشورتي کمیټه کې د غړیتوب لپاره غوښتنلیک وړاندې کړي. غوښتنلیکونه د 2024 کال د فبرورۍ 16 نېټې پورې سپارل کیدی شي.

د E-SPLOST مشورتي کمیټه د اتباعو معلومات چمتو کوي او د رایې ورکوونکو لخوا د تصویب شوي پروژې د هغه لیست بیاکتنه کوي چې د E-SPLOST د عوایدو له لارې یې تادیه شوې. یاده کمیټه د عامو خلکو څخه رامنځته شوې ده چې د روڼتیا او اړیکو ساتلو په اړه د DCSD ګډ هدف د DeKalb کاونټي ټولنې سره شریکوي.

کاندیدان باید هغه ځایي خلک وي کوم چې د DCSD په حدودو کې ژوند کوي. د کمیټې غړي باید د DeKalb کاونټي د پوهنې د بورډ غړي او د DCSD کارمندان نه وي یا دا چې د DCSD پروژو سره کومه اقتصادي علاقه نلري. د محاسبې، معمارۍ، پلټنې، ساختمانی، انجنیرۍ، مالي امورو، K-12 تعلیم، قانون، پلان جوړونې، د پروژې سمبالښت او / یا د املاکو په برخه کې تجربه مطلوب ده.

برسېره پردې کاندیدان باید دا وړتیا ولري چې دوه ساعته وخت چمتو کړي ترڅو په میاشتنۍ غونډو کې ګډون وکړي. دا غونډې په عامه توګه د ماښام په وخت ترسره کیږي. د غوره کیدو په صورت کې غړي باید د سابقې چک هم پاس کړي او د نه افشا کولو تړون هم لاسلیک کړي.

د Georgia د ښوونځي ترټولو لویې ولسوالۍ کې د پردې تر شا کار کولو لپاره د دې عالي فرصت لپاره آنلاین غوښتنلیک وړاندې کول اسانه دي! بس دلته کلیک وکړئ ترڅو خپل معلومات وسپارئ




د DCSD د 2024 کال د ټيکنالوژۍ میله (انګلیسي/هسپانوي)

https://www.youtube.com/watch?v=8I1oeCLvwtk




د Briarlake ابتدايي ښوونځي د بصري او رسنيز هنرونو ښوونکې Dr. Amy Sery ته [د ټولګي فرنيچر وړيا ډالۍ کولو](#) مراسمو کې د 12 فاينليستانو څخه يوه فاينليسته کيدو لپاره مبارکي وايم چې د [KI](#) په نوم د فرنيچر جوړونکي لخوا ورکول کيدې! د Dr. Sery ملاتړ کولو او د Briarlake ټولو ځوانو هنرمندانو لپاره د هر اړخيز ځای په رامنځته کولو کې د مرستې لپاره په لاندې لينک کليک وکړئ ترڅو Dr. Sery ته رايه ورکړئ او د هغې د ټولګي ډيزاين وګورئ.
رايه ورکول د جنورۍ په 31 نېټه پای ته رسيږي

https://www.ki.com/insights/markets/k-12-education/learning-space-design-competition/2024/#eastern




والدین او سرپرستان هڅول کیږي چې د Edulog Parent Portal په نوم وړیا اپلیکیشن ډاونلوډ کړي. دا اپلیکیشن والدینو او سرپرستانو ته دا فرصت چمتو کوي چې د خپل ماشوم بس د رینتیني وخت نقشه کې تعقیب کړي او کله چې دا بس د بسونو تمځای، ښوونځي یا د دودیزو خبرتیاو ساحې ته نږدې شي نو د خبرتیاو څخه دی باخبره اووسي. والدین او ساتونکي یوازې د خپل ماشوم/ماشومي لپاره د ځانګړې ډیټا له لارې د نوم لیکنې لپاره لاسرسی ترلاسه کوي. که تاسو د Edulog اپلیکیشن په اړه کومه پوښتنه یا اندیښنه لرئ نو مهرباني وکړئ د DCSD ټرانسپورټ سره په 1305 676 (678) شمیره اړیکه ونیسئ. د لا زیاتو معلوماتو لپاره دلته کلیک وکړئ.





د Tucker – Battle of the Brigadeعالي لیسه

https://www.youtube.com/watch?v=jhNeAdBodQY




مهرباني وکړئ د پوهنې بورډ په مرکزي ودانۍ کې د ټولو پخوانیو غونډو د پوښتنو او ځوابونو لیدلو لپاره لاندې لینک کلیک کړئ:
/https://www.dekalbschoolsga.org/students/d3-dialogue-with-district-leaders

د غونډو د ریکارډونو د لیدلو لپاره مهرباني وکړئ دا لینک کلیک کړئ:
https://vod.dekalbschoolsga.org/CablecastPublicSite/gallery/7?channel=1



د DCSD میوزیک خوندور دی – 8 قسط - Arabia Mountain  عالی ښوونځی

https://www.youtube.com/watch?v=FtRoDGbTNS8



# یو څراغ روښانه کړئ
# جګړه پای ته ورسوئ

## د انساني قاچاق مخه ونیسئ



**د 2024 کال د جنوری 11 ~ د 2024 کال د جنوری 31**



جنوري د انساني قاچاق د مخنيوي مياشت نومول شوې ده. د ښوونځي د ولسوالۍ په توګه به موږ "د جګړې پای ته رسولو/د انساني قاچاق د مخنيوي لپاره رڼا واچوو." زموږ د انساني قاچاق د مخنيوي ټيم زموږ د زده کوونکو، والدينو، د ټولنې شريکانو او ټولو کارمندانو لپاره فعاليتونه رامنځته کړي دي. د لا زياتو معلوماتو لپاره، دلته کليک وکړئ.

موږ له هر هغه چا څخه مننه کوو چې تیره اونۍ یې د ټولنې شراکتونو د ښکیلتیا په پیښو کې ګډون وکړ. په مهمو بحثونو کې ستاسو ګډون کول زموږ لپاره په سړه شپه د تفریح فرصت وګرځید. د دې پیښې څخه د نورو عکسونو لیدلو لپاره دلته کلیک وکړئ.




# د ښوونځي انتخاب پرانیستې داخله

## د 2024 کال د جنوري له 5مې څخه د فبروري تر 9مې پورې

### اړین اسناد

- د DCSD زده کوونکي د ID شمیره
- د زیږیدنې ثبوت
- د استوګنې ثبوت
- د 2023 کال د منې سمستر راپور کارت

### اضافي اسناد

- د MAP نمرې
- د پلټنې غوښتنلیک
- د IB غوښتنلیک
- د Arabia ښوونځي د Magnet برنامې غوښتنلیک

### برنامې

- په Arabia Mountain عالي ښوونځي کې د مسلکي دندو لړۍ
- Coralwood-Hawthorne شراکت
- د دوه ګوني ژبې زده کړه
- د مقننه مجلس بل 251
- نړیوال لیسانس (IB)
- مونټیسوري
- د ډاکټر Ronald E. McNair د کشفي زده کړو اکاډمي
- د مشرانو جرګې 10م قانون
- په ځانګړو ګټو د تمرکز ښوونځی
- د لوړو لاسته راوړونکو د تمرکز برنامه
- موضوع

### د DCSD ښوونځي انتخاب

دDeKalb کاونټي ښوونځي ولسوالۍ هغو کورنیو ته ښه راغلاست وایي چې پهDeKalb کاونټي کې اوسیږي ترڅو د ښوونځي د انتخاب مختلف برنامو ته د لاټرۍ انتخاب لپاره د داخلې د پرانیستې مودې په ترڅ کې غوښتنلیک وړاندې کړي. فرصتونه د لوړو لاسته راوړونکو د Magnet برنامې څخه تر نړیوال لیسانس پورې د دوه ګوني ژبې د زده کړې تخنیک او موضوعي برنامو پورې اړه لري. د لاټرۍ انتخاب د مارچ په دریمه اونۍ کې ترسره کیږي. کورنۍ کولی شي د WWW.DEKALBSCHOOLSGA.ORG/SCHOOL-CHOICE/له لارې غوښتنلیک وړاندې کړي

### مهمې نیټې

- د 2024 کال د جنوري 5 – پرانیستې داخلې پیل شوي
- د 2024 کال د فبروري 9 – پرانیستې داخلې پای ته رسیږي
- د مارچ 29، 2024 - د لاټرۍ پایلې به خپرې شي
- د 2024 کال د اپریل 1 – د ځنډني غوښتنلیک موده پیلیږي
- د 2024 کال د اګست 30 – د کاري تجربو دندو وروستۍ نیټه

د ښوونځي انتخاب پرانیستې داخله د فبروري په 9مه پای ته رسیږي. د لا نورو معلوماتو لپاره دلته کلیک وکړئ.




اووم قسط - په DCSD کې د DeKalb ښوونځي ولسوالۍ له تاسې څخه اوري

https://www.youtube.com/watch?v=puL0Xzr1mGM

DeKalb County School District

# غبرګه داخله

د Georgia د غبرګې داخلې برنامه په 10-12 ټولګیو کې د عالي ښوونځي په ډیپلوم د کار کولو پرمهال ور زده کوونکو ته د کالج د کریډیټ ترلاسه کولو فرصت چمتو کوي.



اوسمهال د کالج کریډیټ ترلاسه کړئ

د لا زیاتو معلوماتو لپاره کلیک وکړئ

**د لا زیاتو معلوماتو ترلاسه کولو لپاره د خپلې سیمې د ښوونځي سلاکار سره اړیکه ونیسئ**




همدا اوس په فلائر کې د QR کوډ په سکین کولو سره غوښتنلیک وړاندې کړئ یا له http://bit.ly/3hvkfrg لینک څخه لیدنه وکړئ.

PASHTO

(د غوره والي په خاطر بدلون رامنځته کول)

# آیا تاسو د سرپرست خبر پاڼه لیدلی ده؟




## دې ته د لاسرسي موندلو د ځرنګوالي په اړه معلومات شتون لري!

- ټولنیزه رسنۍ @dekalbschools
- د ښوونځي پیغام لیږدونکی
- ویب سایټ (ولسوالي او ښوونځی)
- د خبرونو وړوکی راپور
- Mail Chimp

د ګډون کولو لپاره QR کوډ سکین کړئ

DeKalb County School District

Disrupting for Excellence

(د غوره والي په خاطر بدلون رامنځته کول)



# د Medicaid د بیا ټاکلو په اړه مرسته ترلاسه کړئ

دلته هغه سرچینې شتون لري چې د Goergia د Medicaid او PeachCare for Kids® غړو او ټولنو سره د هغوي وړتیا چیک کولو لپاره چمتوالي کې مرسته کوي کوم چې د 2023 کال د اپریل له میاشتې څخه تر د 2024 کال د می میاشتې پورې پیل کیږي.

DeKalb County School District

https://www.dekalbschoolsga.org

/https://www.dekalbschoolsga.org/students/medicaid-redetermination-are-you-still-covered

/https://www.dekalbschoolsga.org/students/medicaid-redetermination-are-you-still-covered